# رسول الله صلى الله عليه وسلم به د لمانځه د پرانیستې پر مهال خپل لاسونه د اوږو په برابر؁ پورته کول،

له ابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی چې: رسول الله صلى الله علیه وسلم به د لمانځه د پرانیستې پر مهال خپل لاسونه د اوږو په برابر؁ پورته کول، او کله به یې چې د رکوع لپاره تکبیر وایه او کله به یې چې له رکوع څخه سر پورته کاوه همدا رنګه به یې دواړه پورته کول او ویل به یې: «سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، رَبَّنَا وَلَكَ الحَمْدُ» " الله د هغه چا ثنا واورېده چې د هغه ستاینه یې وکړه، اې زمونږه ربه تا لره ستاینه ده» او د سجدې پر مهال به یې داسې نه کول.

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلى الله علیه وسلم به د لمانځه پر مهال خپل لاسونه اوږو ته مخامخ یا د اوږو برابر پورته کول، (اوږه) هغه ځای دی چې داوږې او بازو هډوکي سره یو ځای کیږي. لومړی مقام: کله چې په تحریمه تکبیر سره د لمانځه پرانیسته کوي. دویم: کله چې د رکوع لپاره تکبیر وایي. دریم: کله چې له رکوع څخه سر پورته کړي او ووایي: سمع الله لمن حمده ربنا ولک الحمد. د سجدې په پیل کې به یې لاسونه نه پورته کول او نه به یې د پورته کېدو پر مهال.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3095

النجـاة الخـيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee